# پاکستان کې روان کړکیچ؛ لاملونه او پايلې



د روان کال اکتوبر میاشتې په ۲۷ نېټه د جمعیت علماء اسلام (ف) گوند په مشرۍ پراخه لاریونونه د واکمن (پاکستان تحریک انصاف) گوند پر ضد له کراچۍ پیل شول. د اکتوبر په ۳۱ نېټه له نورو ځایونو لکه خیبر پښتونخوا او بلوچستان څخه هم ډلې ډلې خلک د لاریونو په موخه اسلام آباد ته ورسېدل. او له اوسني واکمن گوند مشر څخه يې وغوښتل ترڅو استعفاء ور کړي او له واکه لاس په سر شي! دا چې د دې لاریونونو او استعفاء غوښتلو لاملونه او د لاریون کوونکو نورې غوښتنې څه دي؟ د اوسني حکومت او په ټوله کې پاکستان لپاره کومې ننگونې او پايلې له ځان سره لري؟ په دې تحلیل کې پرې هر اړخيزه شننه شوې.

## پاکستان کې روان لاریونونه

د پاکستان جمعیت علماء اسلام (ف) گوند چې مشري يې مولانا فضل الرحمن کوي، له ډېرې مودې راهیسې پلان درلود، ترڅو د اوسني واکمن گوند پر ضد پراخه لاریونونه ترسره کړي، چې بلآخره د يادو لاریونونو پراخه

څپې پلازمينې (اسلام آباد) ته د اکتوبر پر ۳۱ نېټه ورسېدې. که څه هم د لاريون کوونکو پراخه کچه د جمعيت علماء اسلام فضل الرحمن ډله او عوامي نيشنل ګوند جوړوي چې مشري يې اسفنديار ولي خان کوي. مګر د واکمن ګوند نور مخالف ګوندونه لکه پاکستان مسلم ليګ نواز شريف ډله، پاکستان پيپليز پارټي او پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشران او پلويان هم تر يوې کچې په لاريون کې ګډون درلود.

د خيبر پښتونخوا حکومت د لاريون پيلېدو وړاندې ويلي وو، چې لاريون کوونکي به پرېښږدې ترڅو اسلام آباد ته د لاريون لپاره ولاړ شي، خو وروسته ولايتي حکومت له خپلې پرېکړې په شا شو، او لاريون کوونکي بې له کوم خنډ او ځنډ څخه پلازمينې ته ورسېدل. بلخوا د کورنيو چارو وزير اعجاز شاه د لاريون پيلېدو وړاندې څرګنده کړه، چې د لاريون کوونکو مخه به نه ډب کوي، او د هغوی د آسانۍ په خاطر به هر راز قانوني مرسته ترسره کوي.

## د پاکستان جمعيت علمای اسلام ګوند لنډه پېژندنه

په کال ۱۹۱۹ کې د انګريزانو استعمار پر ضد او د هند ملي کانګرس په ملاتړ د جمعيت علماء هند په نوم ګوند جوړ شو، او په بر صغير کې د مسلمانانو لپاره د يو ځانګړي هېواد (پاکستان) جوړېدو او ملاتړ په پار له ياد ګوند څخه د جمعيت علماء اسلام په نوم د نوي ګوند په توګه راوټوکېد.  په ۱۹٦۰ کال کې د ايوب خان ريژيم پر خلاف ياد ګوند چې مشري يې مفتي محمود په غاړه وه، خپل فعاليتونه پيل کړل. په کال ۱۹۸۰ کې د مفتي محمود وروسته د هغه ځوی مولانا فضل الرحمن د جمعيت علماء اسلام (ف) مشري په غاړه واخيسته چې تر اوسه د ياد ګوند مشري کوي. جمعيت علماء اسلام (ف) ګوند ديوبندي فکر لري او په خيرپښتونخوا او بلوجستان کې زيات شمېر پلويان لري. د ۱۹۸۰ کال راهيسې د جمعيت اسلامي، عوامي نيشنل ګوند او پاکستان پيپلز ګوند سره يې ائتلافي او ګډ حکومتونو کې برخه اخيسته، او ويل کېږي چې د افغان طالبانو سره نږدې اړيکې لري او هر وخت د هغوی په ملاتړ څرګندونې هم ترسره کوي او اوس يې د پاکستان تحريک انصاف ګوند پر ضد پراخه لاريونونه په لاره اچولي دي.

## د اوسنيو او پخوانيو لاريونونو پرتله

د پاکستان مسلم ليگ گوند پر ضد د اوسني واکمن گوند ۲۰۱۴ کال پراخه لاريونونه چې شاوخوا ۱۲٦ ورځې يې دوام وکړ، او په ترڅ کې يې د وخت واکمن گوند مشر او لومړي وزير (نواز شريف) له دندې لرې کړ . د پاکستان په ملي تلويزون حمله ترسره شوه او د هېواد اقتصاد ته په پراخه کچه زيان واوښت. مگر د مولانا فضل الرحمن په مشرۍ روان لاريون چې د گډون والو کچه پکې د ۲۰۱۴ کال له لاريون څخه څو چنده زياته ښکاري، تر اوسه د نظم له اړخه د زياتو خلکو پاملرنه جلب کړې، د بېلگې په ډول لاريون کوونکي هغه پلي لارې او سړکونه پاکوي، چې د لاريون پر مهال ورڅخه گټه اخلي. که څه هم په لاريون کې ښځينه گډون والې شتون نه لري، مگر د رسنيو ښځينه کار کوونکو سره د لاريون کوونکو ښې رويې د رسنيو او ټولنيزو رسنيو کار کوونکو توجه هم ځان ته جلب کړه. خو يو شی چې د ۲۰۱۴ کال لاريون  کوونکو په پرتله دلته کمزوری ښکاري هغه، لاريون کې د گډون په لاملونو دی، دلته لومړی گډون وال له دې نه وو خبر، چې ولې لاريون ته راغلي، او د خپلو مشرانو څرگندونو پر خلاف يې غوښتنې مطرح کولې او يا يې گډون د اسلام په خاطر گاڼه، او وروسته وليدل شول چې له رسنيو سره له خبرو هم گوښه کېدو ته اړ کړای شول، مگر د تحريک انصاف گوند په ۲۰۱۴ لاريون کې تقريباً هر گډون وال په دې ښه پوهېده چې ولې يې لاريون کې گډون کړی او لامل يې د چارواکو له لوري فساد، اقتصادي ځوړتيا او نورې اړينې ستونزې  يادولې.

## د لاريون لاملونه

په لومړي ځل د ۲۰۱۸ کال جون مياشتې ۲۵ نېټې ټول ټاکنو کې د تحريک انصاف گوند د هېواد په سطحه ډېر شمېر رايې خپلې کړې، او د پاکستان په تاريخ کې يې با نفوذه گوندونو لکه ( پاکستان مسلم ليگ (ن) او پاکستان پيپلز پارټۍ) ته په پراخه کچه ماته ور کړه. له هغې ډلې د جمعيت علماء اسلام (ف)  گوند هم وو چې په اوسني پارلمان کې هيڅ څوکۍ نه لري او يوازې په مشرانو جرگه کې څلور څوکۍ ورپاتې دي، هغوی تور

پورې کوي چې ځينې ادارو چې ښايي مراد يې د فوځ او استخباراتو اداري وي د اوسني واکمن گوند د بريا تر شاه لاس درلود. چې دې خبرو د فوځ خاموشي هم ماته کړه او له مولانا څخه يې د ادارو په اړه د وضاحت غوښتنه وکړه خو مولانا يې په سياست کې د فوځ په نه گډون لنډ او ډيپلوماټيک ځواب ور کړ.

له دې پرته د پاکستان اقتصادي ځوړتيا، بې کاري، د حساب ورکولو په پلمه د پخوانيو سياسي چارواکو نيول او د کشمير قضيه هغه ستونزې دي چې ياد گوند ته يې د لاريون ويستلو پلمه برابره کړه. خو واکمن گوند مشر عمران خان بيا تور پورې کوي چې مولانا د بهرنيو او په ځانگړې توگه د هندوستان په اشارو کار کوي او اقتصادي ځوړتيا د پخوانيو حکومت ميراث گڼي او تمه ښيي چې د هېواد اقتصادي پياوړتيا لپاره به کار کوي.

په ورته وخت کې عمران لاريون کوونکو سره د خبرو اترو لپاره د دفاع وزير پرويز خټک تر مشرۍ لاندې کمېټه جوړه کړې، چې تېره دوشنبه يې د مخالفو گوندونو کميټې مشر اکرم خان دراني سره لومړنۍ کاميابه ناسته لرله، د سکهانو (لړکيو) لپاره د کارتاپور پرانستې ترځنگ د احساس انډر کريجويټ پروژې لاندې په راتلونکې څلورو کلونو کې د بې وزله کسانو لپاره د دوه لکو سکالرشپونو (بورسونو) پروژه اعلان کړې او ښايي دا به هغه څه وي چې د لاريون کوونکي گوند ادعاوې به تتې او واکمن گوند سره مرسته وکړي.

خو لاريون کوونکی گوند بيا غوښتنه کوي چې لومړی وزير عمران خان دې استعفاء ور کړي او نوې ټولټاکنې دې په داسې ډول ترسره شي چې د ټاکنو په مرکزونو کې فوځ شتون و نه لري او که نه، خپل لاريون ته به دوام ورکړي او په راتلونکې کې به د هېواد ټولې لويې لارې وتړي. خو ليدل کېږي چې د لاريون کوونکي گوند سره د حکومت د نورو مخالفو گوندونو ملاتړ د هغوی د گونديزو گټو پورې تړلی ښکاري، په لاريون کې د هغوی د پلويانو گډون تت ښکاري. که څه هم دا کار لاريون کوونکي گوند لپاره د بريا پر وخت ښه نقطه ثابتېدای شي، مگر په اوس کې د حکومت مخالفو ډلو لږ گډون اوسني حکومت ته د لاريون کوونکو پر ضد د تبليغاتو ښه زمينه برابروي او د هغوی د لا ويشلو لپاره تبليغات په لاره اچول او کمزورۍ کولی شي.

په اوسنيو لاريونونو کې د حکومت مخالف گوندونو کم رنگه گډون دوه لاملونه کېدای شي، يو دا چې هغوی په ولايتي اسمبليو او پارلمان کې تر يوې اندازې ځوکۍ لري، او نه غواړي د تاوتريخوالي را پيدا کېدو پر وخت کې

حکومت د هغوی پر ضد تبلیغات وکوي او په دې توگه شته ولسي نفوذ هم له لاسه ور کړي او بل دا چې د یادو گوندونو مشران د اوسني حکومت له لوري د احتساب ورکولو په ترځ کې بندیان شوي، غواړي پر اوسني حکومت د فشار واردولو سره خپل مشران (نواز شریف، مریم نواز، آصف زرداري او نور...) له زندانونو خوشې کړي، چې تر اوسه د (ن) لیگ پلویانو لپاره د هغوی د مشرانو نواز شریف او مریم نواز شریف په ضمانت خوشې کېدو په اړه شنه ځراغونه په لاس ورغلي.

او بلخوا په دې وخت کې د مولانا فضل الرحمن له لوري لاریون پیلول هم په دې هیله وو، چې د حکومت مخالف گوندونو (پاکستان مسلم لیگ او پاکستان پیپلز پارټۍ) ملاتړ به څکه جلب کړي چې د هغوی مشران په جیلونو کې پراته دي او له دې پرته نور گوندونه لکه عوامي نیشنل پارټي او پښتونخوا ملي عوامي پارټي غواړي په اوسني حکومت فشار واردولو سره په ولایتي کچه د خپل نفوذ زیاتولو لپاره کمپاین ترسره کړي.

## د لاریون کوونکو او واکمن گوند لپاره ننگونې

د اوسني واکمن گوند سره د فوځ ملاتړ، د نویو اقتصادي پروژو پیلول، د مولانا فضل الرحمن له لوري د فوځي ادارو پر ضد هغه څرگندونې چې تور پورې کوي چې په تېرو ټولټاکنو کې د ادارو (فوځ) په مرسته پراخه درغلي شوې، لاریون کې د حکومت نورو مخالفو گوندونو لږ گډون او د تاوتریخوالي پیلول ښایي د اوسني حکومت لپاره هغه مثبت اړخونه واوسي چې د لاریون کوونکو مخه پرې نوره هم ښه ډب کړای شي او په دې توگه د فوځ ملاتړ نور هم خپل کړي. خو بلخوا د هېواد په کچه بې کاري، د لوړنیو توکو د بیو او مالیې لوړوالی، د پخوانیو حکومتي چارواکو لکه پخوانی لومړی وزیر نواز شریف، پخوانی صدر آصف علی زرداري، پخوانی لومړی وزیر شاهد خان قان عباسي، مریم نواز او یو شمېر نور مخالفین جیلونو کې ساتل، په رسنیو یو شمېر بندیزونه لگول لکه د یوې رسنۍ پروگرام چلوونکي نه شي کولی په بله رسنۍ یا تلویزون کې د میلمه په حیث گډون وکړي، د مولانا فضل الرحمن پر ضد نا سم الفاظ کارول هغه ننگونې دي چې کېدای شي د اوسني حکومت د بدنامۍ او ختمېدو سبب وگرځي.

## د کړکيچ پايله

په پاکستان کې د واکمن حکومت پر ضد لاريون راويستل څه نوې خبره نه ده، او دا لړۍ د پاکستان جوړېدو را وروسته تقريباً د هر حکومت پر وړاندې را روانه ښکاري. خو اوسنی لاريون د هغه چا په مشرۍ پيل شوی چې يوې خوا د پاکستان په تاريخ کې ځانګړې حيثيت او تجربه لري، او له بلې خوا د پاکستان فوځ او استخباراتو سره يې اړيکې تل ښې پاتې شوي. دغه لاريون د هېواد اقتصاد ته هم زيان اړولی، اسلام آباد کې يې د عامو خلکو اقتصادي چارې هم ټکنی کړې. که چېرته لاريون دوام پيدا کړي او حکومت يې د پراخېدو مخه ونيسي، لرې نه ده، چې لاريون به د تاوتريخوالي لوري ته ولاړ شي، او کېدی شي اوسني حکومت ته‌غر هم ورته‌ول شي. خو که اوسنی حکومت د لاريون کوونکو غوښتنو ته پر وخت د ځواب لارې ولټوي ښايي لاريون پای ومومي خو د لاريون کوونکو لومړنۍ غوښتنه چې د لومړي وزير استعفاء ده او دا کار بيا ډېر ناشوني ښکاري، ځکه پارلمان کې مخالف ګوندونه ۱۵۶ څوکۍ لري او که وغواړي چې د لومړي وزير څخه د اعتماد رايې واخلي هغوی ۱۷۲ رايو ته اړتيا لري.

| Political Party | MNAs |
|---|---|
| Pakistan Muslim League-N | 84 |
| Pakistan People's Party | 55 |
| Awami National Party | 01 |
| Muttahida Majlis-e-Amal | 16 |
| Total | 156 |

سرچينه: جيو نيوز ويبسايټ

يوازينۍ لار چې ښايي اوسنی حکومت ته‌غر ورته‌ول کړي او لومړی وزير استعفاء ته اړ کړي هغه د لاريونونو لړۍ پراخول دي، چې تر اوسه يې په پاکستان کې مثبته نتيجه ورکړې ده، خو دا کار بيا د فوځ ملاتړ ته اړتيا لري،

ځکه د فوځ مشرانو د خپلو ادارو په اړه د مولانا څرګندونو وروسته غونډه هم کړې او د ادارو په ځواکمنتيا يې تاکيد کړی چې دا بيا د اوسني حکومت څخه د ملاتړ څرګندې نښې ګڼل کېدای شي.

# تداوم جنایات جنگی توسط مدعیان حقوق بشر



در جنگ افغانستان از ۱۸ سال به این سو، هدف قراردادن افراد ملکی از سوی طرف‌های درگیر این جنگ، یک امر معمول گشته و به همین دلیل تا کنون ده‌ها هزار فرد ملکی در این جنگ کشته و زخمی شده‌اند. حملات هوایی و عملیات مشترک شبانهٔ نیروهای افغان و خارجی، همواره یک بخش بزرگی از تلفات ملکی را موجب شده است. دیدبان حقوق بشر در تازه‌ترین گزارش خود بر اساس مصاحبه با قربانیان و شاهدان در ولایت‌های مختلف افغانستان می‌گوید نیروهای قطعات خاص امنیت ملی افغانستان تحت حمایت سازمان اطلاعات مرکزی آمریکا (سی آی ای) تخطی‌های جدی‌را از جمله کشتن غیرنظامیان در جریان عملیات‌های شبانه مرتکب شده‌اند. افزایش حملات هوایی و شبانه نیروهای افغان و خارجی بخشی از استراتیژی دونالد ترامپ برای افغانستان می‌باشد، اما بدون افزایش تلفات ملکی و تشدید جنگ، نتیجهٔ دیگری در پی نداشته است. مروری بر گزارش دیده بان حقوق بشر، واکنش‌ها در برابر گزارش اخیر آن و این که سکوت حکومت و جامعهٔ بین‌المللی در برابر کشتار غیر نظامیان، چه پیامدهایی را در پی خواهد داشت؟ از موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## گروه‌های شبه نظامی و عملکرد شان

از سال ۲۰۰۱، سازمان اطلاعات مرکزی امریکا ( سی آی ای)  در افغانستان به طور موازی و جدا از ارتش امریکا برای تعقیب افراد القاعده و طالبان و پس از سال ۲۰۱۴ جنگجویان وابسته به دولت اسلامی (داعش)

نیروهای شبه‌نظامی افغان را استخدام، تجهیز، آموزش و اعزام کرده است. با آن که این نیروها در ظاهر به نام نیروهای ریاست امنیت ملی افغانستان هستند، اما در خارج از چوکات معمول فرماندهی نیروهای امنیتی افغانستان و تحت فرماندهی عملیات تحت پوشش سازمان اطلاعات مرکزی امریکا(سی آی ای) عمل می‌کنند. این نیروها به پشتیبانی لوجستیکی و هوایی ارتش امریکا متکی هستند. هلی‌کوپترهای امریکایی نقل و انتقال این نیروها را در جریان عملیات‌ها و حتی در مواردی خارج از عملیات‌های مشترک انجام می‌دهند. نیروهایی موسوم به "قطعه ۰۱" در مناطق مرکزی؛ کابل، پروان، وردک، لوگر و ولایت‌های همجوار عملیات می‌کند. "قطعه "۰۲ در مناطق شرقی؛ ولایت‌های ننگرهار، لغمان، و ولایت‌های همجوار عملیات می کند، "قطعه "۰۳ که بنام "نیروی تهاجمی قندهار" نیز یاد می‌شود و قدیمی‌ترین این نیروهاست که پس از سال ۲۰۰۱م در پی شکار افراد القاعده در قندهار، هلمند، زابل، فراه و ارزگان است. "قطعه ۰۴" نیز در ولایت‌های نورستان، کنر و ولایت‌های همجوار عملیات می‌کند و قطعه 'نیروهای حفاظتی خوست ' که قبل از یازده سبتمبر توسط سازمان اطلاعات مرکزی امریکا(سی آی ای) ایجاد شده است فعالیت می کند. عملیات‌های شبانه توسط این نیروها به هدف کشتن یا دستگیری شورشیان عموما در مناطق روستایی تحت کنترول طالبان یا مناطق جنگی رخ می‌دهد. این نیروها، دیوارخانه و محل سکونت مردم را شکسته، خانه‌ها را می‌گردند و ساکنین را بازجویی می‌کنند. برخی از مردان بازداشت می‌شوند بدون این‌که خانواده آنها از محل نگهداری‌شان اطلاع داشته باشند، کسان دیگری نیز بدون سوال و جواب کشته می‌شوند. در موارد زیادی که دیدبان حقوق بشر تحقیق کرده، در عملیات‌های شبانه غیرنظامیان به خاطر اشتباه در شناسایی، اطلاعات غیر معتبر و با رقابت‌های سیاسی محلی مورد حمله قرار گرفته‌اند. یک فرد محلی در ولایت وردک به دیدبان حقوق بشر گفته آنها در عملیات شبانه "در خانه را منفجر کردند، یکی از بچه‌هایم را در پشت خانه کشتند و بچه دیگرم را با خود بردند، آنها ما را متهم کردند که 'چرا به طالبان غذا داده‌ایم؟' اما طالبان آمدند و غذا خواستند، اگر نمی‌دادیم آزار و اذیت می‌کردند".

## گزارش دیده بان حقوق بشر

این گزارش بنا به مصاحبه با ۳۹ فرد محلی و شاهدانی ترتیب یافته که عملیات‌های شبانه را در ولایت‌های غزنی، هلمند، کابل، قندهار، ننگرهار، پکتیا، ارزگان، وردک و زابل و همچنین گروه‌های حقوق بشری افغان که این عملیات‌ها را مستند کردند. بر اساس گزارش سازمان دیده‌بان حقوق بشر گروه‌های شبه نظامی تحت حمایت امریکا که با بهره بردن از مصونیت کامل در افغانستان فعالیت می کنند مرتکب موارد متعددی از جنایات جنگی شده اند. دیده‌بان حقوق بشر در گزارشی اعلام کرده است که این گروه ها در جریان حملات شبانه به صورت خودسرانه اقدام به محاکمه صحرایی غیرنظامیان می زنند. در این گزارش آمده است که بسیاری از ساکنان غیرنظامی در مناطق مختلف افغانستان تاکنون در پی عملیات این گروه ها سر به نیست شده اند. در نسخه ای از گزارش دیده بان حقوق بشر که هفته گذشته منتشر شد همچنین تصریح شده است که گروه های شبه نظامی تحت حمایت سازمان اطلاعات مرکزی آمریکا،( سی آی ای) از پایان سال ۲۰۱۷م تا

اواسط سال جاری میلادی (۲۰۱۹م) دست کم چهارده عملیات مختلف را طوری انجام دادند که در جریان آنها موارد متعدد نقض حقوق بشر و نیز جرائم جنگی به ثبت رسیده است. یکی از این عملیات‌ها سال گذشته در ولایت پکتیا انجام شده که در جریان آن یازده نفر تنها در یک روستا به قتل رسیده اند. به گفته شاهدان به قربانیان این حمله هیچگونه فرصت دفاع و مقاومت داده نشده بود. بر این اساس گفته می شود که شبه نظامیان، کلان یک قبیله را با شلیک گلوله به چشم وی و نیز نواسۀ بیست ساله اش را با شلیک گلوله به دهانش به قتل رسانده اند.

بر اساس این گزارش، واحدهای خاص اداره امنیت ملی افغانستان موسوم به ۰۱، ۰۲، ۰۳ و ۰۴، 'نیروی حفاظتی خوست' و نیروهای حفاظتی کندهار در ظاهر تحت ریاست امنیت ملی افغانستان فعالیت می‌کنند، اما به گفته دیدبان حقوق بشر، تا حد زیاد از سوی سی آی ای استخدام، آموزش ، تجهیز و مدیریت می‌شوند.

## واکنش‌ها در برابر گزارش دیده‌بان حقوق بشر

سازمان اطلاعات مرکزی امریکا ( سی آی ای) با اعتراض نسبت به آنچه در این گزارش گنجانده شده تاکید کرده است کلیه موارد ذکر شده در این گزارش «نادرست و یا غلو شده» بوده است .این سازمان با انتشار بیانیه ای تاکید می کند: «ایالات متحده آمریکا برخلاف طالبان پایبند به حاکمیت قانون است. ما اجازه انجام چنین فعالیت های غیرقانونی را نمی دهیم و هیچ گاه آگاهانه در این نوع از جرائم مشارکت نمی کنیم.»

همچنان دفتر شورای امنیت ملی افغانستان با انتشار اعلامیه ای در واکنش به گزارش دیده بان حقوق بشر به گونه ای محتاطانه آنرا مورد تایید قرار داده است. در اطلاعیه شورای امنیت ملی افغانستان با این حال آمده است که برخی از موارد مطرح شده اشتباه بوده و باید اصلاح شود.

با نشر این راپور واکنش حامد کرزی، رییس جمهور پیشین افغانستان، گلبدین حکمتیار رهبر حزب اسلامی، برخی اعضای شورای ملی و مردم عام رو برو شده است و آن را جنایت بشری خوانده‌اند. و خواستار پیگرد قانونی کسانی اند که مرتکب جرایم جنگی شده‌اند.

## نتیجه‌گیری

در طول ۱۸ سال گذشته در جنگ افغانستان، تحت عنوان مبارزه با تروریزم هدف قراردادن خانه‌های افراد ملکی و کشتار زنان و کودکان معصوم بصورت معمول تحت عنوان "اشتباه" و یا "خطا" هربار بدون این که عاملین آن مجازات شوند و مورد پیگرد قانونی قرار گیرند، به فراموشی سپرده شده است. این نهاد مدافع حقوق بشر در گزارشی که روز پنجشنبه ۹ عقرب منتشر شد از دولت افغانستان خواست که بلادرنگ واحدهای شبه نظامی طرفدار دولت را که ورای «سلسله مراتب نظامی عادی» فعالیت می‌کنند، منحل کند. تحقیقات مستقلانه درباره اتهامات موجود، تحت پیگرد قرار دادن عاملان این رویدادها، تحقیق درباره اتهامات جدی تخطی از قوانین حقوق بشر و قوانین جنگی و پیگرد کسانی که مرتکب جرایم جنگی شده‌اند، از خواسته‌های دیگر دیدبان حقوق بشر از دولت افغانستان است. تداوم و تکرار همچو حملات از یک سوی باعث ایجاد فاصله

میان حکومت و مردم می‌شود و از سوی دیگر به طور عموم کشتار افراد بی‌گناه ملکی در کنار واکنش‌های تند، نفرت مردم را در برابر مرتکبین چنین رویدادها نیز برمی‌انگیزد و در تداوم جنگ در کشور نقش برازنده دارد. این که در جنگ، کشتار کودکان و زنان و یا هم بطور کل هدف قراردادن افراد بی‌گناه ملکی بر خلاف تمام اصول انسانی و اسلامی می‌باشد، دولت افغانستان و جامعهٔ جهانی مکلف اند تا هر چه زودتر برای جلوگیری از همچو حملات کورکورانهٔ گروه های شبه نظامی تحت حمایت سازمان اطلاعات مرکزی امریکا،(سی آی ای) اقداماتی لازمی را در پیش گیرند. همچنان نیاز است که حکومت وحدت ملی به جای سکوت بی‌معنا و یا انکار از وقوع این جنایات، آنرا پیگیری جدی نموده و مرتکبین را مجازات نماید. در کل، نیاز است که دولت افغانستان بجای تشدید جنگ و کشتار افراد ملکی، به گونهٔ واقعبینانه روی گفتگوهای صلح و چگونگی پایان دادن به جنگ خونین جاری تمرکز نموده و از تلفات روزانهٔ ده‌ها افغان که فرزندان این کشور می‌باشد جلوگیری نماید.

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویب‌سایت:** www.csrs.com -- www.csrs.af

**شمارهٔ تماس دفتر:** 784089590 (0) 93 +

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.**